بسم الله الرحمن الرحيم

سر يال نمبر: 309

يووالی، ايمان، انضباط

دملت غږ

# خيبرپښتونخوا: امنيتي ادارو د بهته خورانو په ضد کامياب عمليات جاري ساتلي دي

سي تي ډي د بهته اخيستونکو په ضد تازه کاروائيو کښې نن پيښور او ورسره نزدې سيمو کښې درې افغان بهته خور نيولي دي۔ لومړنۍ څېړنې روانې دي او د نورو نيول کېدو تمه کېږي۔

**د نيول شوي افغان کسانو تعلق له کالعدم ټي ټي پي سره دی، چې په ګڼو پيښو کې يې لاس درلود او په افغانستان کې يې د پټو شويو ټي ټي پي مشرانو ته د بهتو پيسې استولې۔**

د امنيتي ادارو لخوا د وروستيو کاميابو عملياتو وروستو، د تحريک طالبان پاکستان مشرتابه په سختو ستونزو کې دي ځکه چې د دوی د حرام مال ذخيره افشا شوې ده او دوی په وړاندې د جدي مالي ستونزو سره مخ دي۔

**د حکومت او امنيتي ځواکونو له خوا د بهتو اخيستونکو پر ضد په وروستيو عملياتو کې د خلکو همکاري خورا مهمه ده، په داسې حال کې د هغو کسانو پر ضد هم عمليات پيل شوي چې بهتې ورکوي۔**